# د شري یا سرخکانو د معلوماتو پاڼه

## شري یا سرخکان څه دي؟

شري یا سرخکان یوه ناروغي ده چې په اسانۍ خپرېږي. کله یې چې نښې نښانې پیل شي، خلک ژر ناروغه کېږي. تاسو په هر سن کې پر شري اخته کېدی شئ، خو کوچني ماشومان ډېر پرې اخته کېږي.

## شري یا سرخکان څنګه خپرېږي

پر شري هغه وخت اخته کېږئ چې له اخته کس سره نیږدې اړیکه ولرئ. دا کېدای شي د دوی د ټوخېدو یا پرنجې پر وخت د هوا له لارې وي او یا د داسې شیانو د لمس له لارې چې څوک ور ټوخېدلي یا یې پرنجې ور کړی. شری په کورنیو او نورو ځایونو کې چې خلک سره ګډ او نیږدې وي، اسانه خپرېږي.

که مو د شري، ډېبغوني او روبیلا (MMR)2 دوزه واکسین کړي وي یا مو دا ناروغي تېره کړې وي، پر شري له اخته کېدو خوندي کېدی شئ.

څوک چې شری لري، کولی شي د پوستکي د بثوراتو له ښکاره کېدو 4 ورځې وړاندې او 4 ورځې وروسته وخت پورې دا ناروغي نورو کسانو ته لېږدولی شي.

## پر شري د اخته کېدو نښې نښانې

د شري نښې نښانې معمولاً پر دغې ناروغی یا عفونت تر اخته کېدو 10 تر 12 ورځې وروسته ښکاره کېږي. په ځینو مواردو کې تر 21 ورځو وخت نیسي چې د شري کومه نښه ښکاره شي.

د شري پیل معمولاً له زکام ته ورته نښو نښانو کېږي. په لومړیو نښو نښانو کې یې دا شاملېږي:

- د بدن د تودوخې لوړوالی
- د پزې بهېدل یا بندوالی
- پرنجې
- ټوخېدل
- د سترګو سوروالی، درد او اوښکې

یو څو ورځې وروسته ښایي پر غومبورو یا د شونډو شاته سپینې کوچنی لکې ښکاره شي. دا لکې معمولاً څو ورځې دوام کوي.

د پوستکي بثورات معمولاً له زکام ته ورته نښو نښانو 2 تر 4 ورځې وروسته ښکاري. د پوستکي بثورات له مخ او د غوږونو له شا پیلېږي او بیا نور بدن ته رسېږي.

د شري لکې ځینې وخت راپورته کېږي. دا ښاي سره یو ځای شي او لویې لکې او داخونه جوړ کړي. دا معمولاً خارښت نه لري.

د پوستکي بثورات پر سپین پوستکي قهوه‌اي او سره ښکاري. پر قهوه‌اي او تور پوستکي یې لیدل سخت وي.

## شری څومره جدي دی؟

له 15 شري لرونکو کسانو څخه 1 یې کېدای شي ډېر جدي ناروغ شي. د کوچنیو ماشومانو، امېندوارو ښځو او کمزوري دفاعي سیستم لرونکو کسانو د جدي نارغه کېدو احتمال زیات دی.

د شري په ډېرو جدي عوارضو یا اختلاطونو کې دا شاملېږي:

- د غوږ عفونتونه
- د سږو عفونت (نمونیا)
- اسهال
- ډي هایدرشن یا د وجود د اوبو کمښت
- دوره یا غوټه (چې ډېر لږ عام دی)

د امېندوارۍ پر مهال د شري ناروغي کېدای شي د ماشوم د مړینې یا تر وخت وړاندې زیږون سبب شي.

## د شري مخنیوی

د MMR واکسین د شري د مخنیوي تر ټولو غوره لار ده.

دا واکسین معمولاً ماشومانو ته په دوو ډوزونو کې ورکول کېږي. لومړی ډوز یې په 12 میاشتینۍ کې وي. دوهم ډوز یې هغه وخت کېږي چې سن یې 3 کاله او 4 میاشتې شي. په نورو وختونو کې هم ورکول کېدی شي.

که معلومه شوه چې ستاسو ماشوم له شري لرونکي کس سره نیږدې اړیکه لرلې، ځینې وخت ښایي ستاسو ډاکټر سپارښتنه وکړي چې دا واکسین تر مهالویش وړاندې ورکړل شي. که یوه نوي زیږېدلي تر 12 میاشتو ټیټ عمر لرونکي ماشوم ته یو ډوز ورکړل شي، نو د MMR واکسینو 2 معمول ډوزونه لا هم باید په خپلو وختونو کې ورکړل شي (د هر ډوز ترمنځ دې لږ تر لږه 1 میاشت فاصله وي).

که چا د دغو واکسینو کوم ډوز نه وي کړی یا یې په اړه باوري نه وي، نو دا واکسین په هر سن کې ورکول کېدی شي. والدین او سرپرستان کولی شي د خپل ماشوم د واکسینو د ریکارډ لپاره د هغه سور کتاب وګوري.

امېندوارو ښځو یا هغو کسانو ته چې کمزوری دفاعي سیستم لري، باید دا وکسین ور نه کړل شي. که دوی فکر کوي چې له شري لرونکي کس سره یې اړیکه لرلې، نو باید له خپل GP یا قابلې سره د نوري مشورې لپاره خبرې وکړي.

د MMR واکسینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره دلته ورشئ:

[http://www.nhs.uk/conditions/vaccinations/mmr-vaccine](http://www.nhs.uk/conditions/vaccinations/mmr-vaccine)

یا دغه QR کوډ سکن کړئ:

**که شري ناروغۍ لرلو پر وخت له نورو خلکو لرې اوسېدل**

څوک چې شرى لري، کولی شي د پوستکي د بثوراتو له ښکاره کېدو 4 ورځې وړاندې دا ناروغي خپره کړي. کله چې په چا کې د پوستکي بثورات ښکاره شول، بیا له هغې وروسته هم تر 4 ورځو پورې دا ناروغي نورو کسانو ته لېږدولی شي.

که د روغتیايي پاملرنې متخصص درته ویلي وي چې تاسو شرى لرئ، باید د له ښوونیز او د ماشومپالنې له چاپېریال او یا کارځای څخه د بثوراتو تر لومړي ځل ښکاره کېدو وروسته لږ تر لږه 4 ورځو پورې لرې وئ. که ښه احساس وکړئ او نور مو د بدن تودوخه لوړه نه ده، کولی شئ تر 4 ورځو وروسته خپلو عادي چارو ته راوګرځئ.

**د شري لرونکو کسانو لپاره درملنه**

د شري جوړېدل معمولاً په یوه اونۍ کې پیلېږي.

استراحت کول او د ډیو مایعاتو، لکه اوبو څښل ډېره ګټه کوي چې د ډي هایډریشن مخه ونیسئ.

شري ځینې وخت د نورو ناروغیو سبب کېدی شي. د هغو د درملنې لپاره ښایي انټي بیوټیکونه درکړل شي.

که د روغتیايي پاملرنې متخصص لخوا درته ویل شوي وي چې ښایي شرى یا سرخکان ولرئ او فکر کوئ چې تاسو یا ستاسو ماشوم نورې جدي روغتیایي اغېزې پیدا کوئ، باید له خپل GP سره اړیکه ونیسئ.

**د شري یا سرخکانو په اړه نور معلومات دلته شته:**

http://www.nhs.uk/conditions/measles

یا دغه QR کوډ سکن کړئ: